مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۶/۱۱/۱۷

جګړه عاطفه وژني

مولوي حسام الدين حسام صيبب، له سلام وروسته وپوښتل: له کوم ځايه په اړيکه کې يې؟
ما ويل: خدايه خير! اوس دي لکه چې له کومې نړيوالي راډيو سره هم، انلاين خبريالي شروع کړه. تاته نه ده معلومه چې زه چېرته يم؟
مبارک بيا، لکه شله ژورنالیست، خپله پوښتنه تکرار کړه .
په ويار مې ورته وويل: د علم او ادب له زانګو، ننګرهار همیشه بهار څخه.
دومره په زوره وخندیده لکه راتولو مامورینو ته چې کوم نوی مقرر شوی، مستبد رئیس فکاهي ویلي وي.
حيران سوم، پوښتنه مې تري وکړه. په جدي انداز يې وويل: همیشه بهار دي منم چې دا له تاسو سره د طبیعت مهرباني ده، نه ستاسو خپل کمال. خو دا د علم و ادب زانګو يې لا څه شی وي؟ په داسي زانګو کي به په خپلو خلکو مړه چرګان پلورل کېږي؟ چې فیسبوک پرانېزي د دغو مردارېو د کشف له خبر سره به مخ سي. د علم و ادب زانګو کي به خلک د زيک آپ، ټابليټ کا او نورو نشه يي ګولیو کاروبار کوي؟ د خپل ځوان نسل تدريجي قتل به کوي؟ هره اونۍ مو همدا خبرونه دي.
بيخي بې ځوابه سوم. له يوې خوا يې پېغور ته غوسه شوم او له بلې خوا مې له دي ترخه حقيقته تېښته نسوه کولای.
په عاجزۍ مې وويل: مولنا صيب، دا اوږده کيسه ده. جګړه عاطفه وژني، انساني اقدار وژني، اخلاقي انحطاط رامنځته کوي... او زمور وطن کي له کابو نيمې پېړۍ راهيسي جګړه روانه وه. وګوره، په شاهي او داودخاني کي چا پوډري نه پېژنده؛ خو بيا...
ويل يې: يه، دا جګړه يوازې په مشرقي کي تېره سوې؟ زمور د بربادۍ يو علت همدا دی چې همیشه خپل ضعف او بدبختۍ ته بېروني دلايل تراشو.
ما ويل: ګوره، کابل زمور پلازمېنه ده. پلازمېنه د ښاري فرهنګ الګو وي. خو هلته هم بار بار د خرو او سپيو قصابان نيول شوي، د نشه يي توکو کاروباريان نيول کېږي. په شمالي ولايتو کي هم همدا حال دی. بيا مې په غوسه ورته وويل: ستاسو چم کي به هم، همدا کيسي وي؛ خو څوک به سر نه خلاصوي.
سړی يو دم غوسه سو: مسخري مه کوه. زه خپله د کورنيو چرګانو غوښې خورم، شکر دی ارادتمندان يې راليږي.
ما ويل زمور يو مشکل دا هم دی چې کله خپله په نېکمرغيو کي يوو، د نورو په بد مرغيو پروا نه راځي.
اوږده ساه يې واخيسته، پوه شوم چې غوسه يې کنټرول کړه. بيا يې ويل: ښه، د غوښو خبره پرېږده. نشه يي توکي څنګه په کش کي دي؟ په دي کي خو ستاسو د شاعرانو لاس هم دی!
بيخي حيران سوم، ما ويل دا څه په ګډوډو سر يې؟
مبارک وفرمايل: همدا تاسي شاعران په شعرونو کي د چرسو د لوګيو صفت نه کوئ؟ د چرسيانو سرې سترګي نه ستايئ؟سمه ده، چرس به دومره بد نه وي؛ خو ځيني ځان نسي کنټرولولی، له چرسو مخکي ځي. ته پوهيږي، زمور په سيمه کي يو ځوان ولي پوډري شوی و؟ همدا شاعرانو پوډري کړی و. هغه ويلي و چې په ټکټر به يې زمکي اړولي او د نغمې دا سندره به يې چالان کړي وه: ادم خانه چرسي، کټ مې وباسه دالان ته – ماته خوب نه راځي، کټ مې وباسه دالان ته
دي ځوان داسي تصور کاوه چې ګوندي نغمه همده ته مخاطبه ده. ايسته يې چرس شروع کړل، بيا چې هغه وخت د چرسو کر منع سو؛ نو تارياکو ته يې مخه کړه او بيا...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په غوسه يې خبره زياته کړه: چرس خو خير، همدا تاسې شاعران په شعرونو کې آن د کوکنار ګلان نه ستايئ؟ نمونې يې درته پېش کړم؟ همدا تاسې شاعرانو د کوکنارو په ګلانو کې عکسونه، نه اخيستل؟ دا خپله يو تشهير نه دی؟ ښه، له کومو ګلانو چې زهر جوړيږي او ځوانې تباه کوي، ولې وستايل شي؟
غلی وم، ما ويل مور ټول ملامت يوو. ته هم ملامت يې!
سړی په قهر سو: خوله سمه خوځوه! ما ويل: له واقعيته مه تښته. دا بوټي چې دومره زهري او د تدريجي قتل وسيله ده، ايا کله دې، د دې زهرو حاصل په صدقه، عشر، شکرانه... کې نه دی اخيستی؟ همدا اوس به دې د سرای په تاخچه کې پخواني تریاک نه وي ساتلي؟ بله خبره دا چې دا راته ووايه چې هره مياشت کې د ځو جمعو تقرير دې د مخدره موادو اضرارو ته خاص کړی وي؟ تا خو ايله فرعون، هامان، شداد، قارون، يزيد... له ګريوانه رانيولی وي.
تا خو په ټول زور موسيقۍ پسې رااخيستې وي. موسيقي او موسيق کاران دې تذليل او د خلکو له پامه ښه بد کړل؛ خو ايا کله دې دا عمل د نشيي توکو د وړو او ستروکارباريانو په حق کې هم وکړ؟ همدوی چې له حج او عمرې راسي، نه ور ځغلي؟
کله د هغو ځوانانو ډلې ته تللی يې چې تازه يې دې زهري سفر ته مخه کړي؟ کله دې په مينه دغه تباه کېدونکی نسل له دې نشي منع کړی؟ هغه وخت چې يې ستاسو چم کې ښکاره بازارونه ول، کله دې کوم کاروباري، دکاندار، زارع له دې مردود کاره منع کړی او الهي وعيدونه دې ورته بيان کړي دي؟...
سړي، ټولې خبرې په حوصله واوريدې او بيا يې ويل: نن خو دې ښه شعر جاري دی! ته چې دومره ځان هوښيار او خواخوږی ګڼې، حل لاره يې راوښيه!
ما ويل د هوښيارۍ دعوه خو په ټول عمر کې نکوم؛ خو رايه مې دا ده چې د هر متضرره ولايت په کچه دې يو مسلکي او تخصصي کميسيون جوړ سي، نه د اندېوالۍ او شناخت له مخې. دا کميسيون دې لږ تر لږه په خپل مربوطه ولايت کې له پنځوسو داسې ځوانانو سره مرکې وکړي چې تازه يې نشو ته مخه کړې وي. له هر يوه دې وپوښتي: څومره وخت کيږي چې نشه کوې؟ اول دې کومه نشه کوله؟ څه شي نشي ته وهڅولې؟ مواد څنګه ترلاسه کوې؟ کورنۍ کې مو بل څوک هم نشه کوي؟.....
بيا دې دا ټولې مرکې ارزيابي او تحليل شي؛ ځکه ممکن د هر ولايت يا ځينو ولايتونو د ځوانانو د اعتياد عوامل سره توپير ولري. بيا دې همدې ستونزو هواري ته داسې يوه معقوله او عملي لاره جوړه شي چې نور ځوانان مو له دې زهرو او تدريجي مرګه په امن سي. ترڅو دغسې بنيادي فکر ونسي، جنايي ارګانونه به د نشه يانو او کاروباريانو په نيولو ستړي ستومانه وي. د نشه کاروباريانو يوه ډله به نيسي او بله به پيدا کيږي. ځکه چې بازار کې به تقاضا موجوده وي. بايد دغه تقاضا په بنيادي توګه ختمه سي او کله چې داسې وشي، بيا که مواد عرضه هم سي، خريدار به نلري.
ورو يې وويل: ښه خبره ده، د کميسيون والا معاش به څو وي؟
ما ويل: تاته چې په هرڅه کې پيسه لومړيتوب لري، دا وړۍ نه شړۍ کيږي.
دا ځل ما پرې تلفون کټ کئ.
خو، اوس پښېمانه يم. خدای خبر که بل بنډار وکړي. سړی لږ غوسناک دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ